# شهادت

(٤) صفحه

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبرمسلسل (۱۳۸۳) سال بیستم شمارهٔ (۳٤) یکشنبه (۲۱) ثور ۱۳۷٦هـ ،ش، (٤) محرم الحرام ۱٤۱۷هـ ،ق (۱۱) می ۱۹۹۷م


## ارشاد الهی

مترجم : حکمتیار

### الاحزاب

اي کسانیکه ایمان آورده اید خدا را یاد کنید یادزیادي وبه پاکي یادش کنید هرصباحي وهرشامي . اوست همانکه برشما درودمي فرستد وملائکه اش نیز تابرآرد شمارا ازتاریکي هابسوي نور ، و برمومنان است مهرباني .

زنده بادشان درروز قیامت سلام باشد ومهیا کرده است برایشان پاداش گرامي بي ، هان اي پیامبر ، مافرستادیم تراشاهدي ونوید دهنده اي، وبیم دهنده اي . و دعوتگري بسوي خدا به حکمش وچراغ درخشاني وبشارت ده مؤمنان رابه اینکه براي آنان است ازجانب خدا فضیلت بزرگي .

واطاعت مکن ازکافران ومنافقان ، وبگذار آزارشانرا وتوکل کن برخدا . وکافیست خدا چون کارسازي .

اي کسانیکه ایمان آورده اید اگر زنان مومن را به نکاح بگیرید سپس آنانرا قبل از آنکه باایشان آمیزش ( جنسي ) کنید طلاق نمائید پس براي تان برآنان هیچ عدتي که بشماریدش نباشد . پس ( بامتعه ) بهره مند شان سازید ورها کنید آنانرا رهاکردن شایسته اي .

# دوکتور هول به شکست مساعی صلحجویانه اعتراف کرد

## نتوانستم به موفقیت قابل ملاحظه نایل شوم

## مسئله افغانستان درسرفهرست مسایل جهانی است

## سازمان ملل برای رفع کمبود گندم اقدام مناسب مي نماید

ناربرت هول

کابل : ناربرت هول نماینده خاص سازمان ملل درافغانستان عدم پیشرفت درمساعي پایان دادن به جنگ ۱۷ ساله افغانستان را اعتراف نمود ولي وعده داد که بخاطر

بقیه صفحه (٤) ستون (٦)

# دکابل په شمال کی درندی جګړی روانی دی

## ددفاع شورا الوتکو دجبل السراج اوسالنګ لویه لار بمباري کړه

## طالبانو په سالنګ کی دځینوېنګرونو دلاسه ورکولو خبر تائید کړ

## جګړه دتیروڅلورو ورځوراهیسی په پرله پسی توګه دوام لري

## دطالبانو قوماندان وایی : دوی په جګړه کی نیول شوی کسان په سیند کی اچولی

کابل - دغویې ۲۰ مه : دکابل په شمال دجبل السراج اوسالنګ دلویې لارې په استقامت دجګړې غونډونکو لو ترمنځ درندې جګړې روانې دي .

داسوشیتیدپرس دخبري آژانس درپوټ په اساس پرون سهاروختي ددفاع شورا جنګي الوتکو دجبل السراج په تیارڅلوریمونه وغورځول خوداحتمالي مرګ اوژوبلې په باب ئي کوم رپوټ ندي ترلاسه شوي .

له بلې خوابې بي سي راډیو تیره شپه په خپل یوه رپوټ کي وویل چې جګړه دتيري سه شنبي دورځې راهيسې په برله پسي توګه روانه ده اوپرون غرمه دطالبانو دمخالف ائتلاف جنګي الوتکو دجبل

پاتې (٤) مخ (٥) ستون

استاد ربانی در دیدار بامقام ایرانی :

# حملات شورای دفاع علیه طالبان توسعه می یابد

مزارشریف - ۲۰ ثور:

استاد رباني باابوالفضل « ظهروند » سرقنسل جمهوري اسلامي ایران مقیم مزارشریف دیدارکرد.

مطابق گزارش رادیو تهران دراین دیدار روي برخي مسایل ذي علاقه بحث وگفتگوي تفصیلي به عمل آمده وقنسل ایران به تحکیم روابط ومناسبات دوجانبه دوکشور تاکید ورزید .

استاد رباني ازکمك هاي بشر... جمهوري اسلامي ایران به مرد... ابراز قدر داني نموده وخواست مساعي بیشتر صلحجویانه این کشور در راستاي

بقیه صفحه (٤) ستون (۳)

# د ایران څو ولایتونه سختی زلزلی وځپل

## دخراسان په ولایت کی (۸) کلی وران شوی

تهران - دغویې ۲۰ مه :

دایران دخراسان ، کرمان، سمنان ، سیستان او بلوچستان ولایتونه پرون غرمه یوي سختي زلزلي ولرزول .

دتهران راډیو درپوټ له مخي ددي زلزلي قوت چي د ریختر په حساب ۷.۱ بښودل شوي اومرکزئي دخراسان ولایت په جنوب دقاین اوبیرجند دښارونو منځ ؤ

تراوسه دزلزلي ځپلو سیمو داستوګنو دمرګ اوژوبلي رپوټ ندي ترلاسه شوي . خو وروستي رپوټونه وایي چي بوازي

پاتي «٤» مخ «٤» ستون

## دیپلومات پاکستانی به طالبان وعده همکاری داد

کابل - ۲۰ ثور :

پاکستان درامر پروسه اعمارمجدد افغانستان آمادگي خـود را ابراز داشته است .

مطابق گزارش رادیو صداي شریعت : طي دیدار ملا شیرمحمد « ستانکزي » معین وزارت خارجه طالبان بااصغرخان آفریدي نایب سفیرپاکستان در کابل، ګري یك سلسله مسایل وموضوعات ذي

بقیه صفحه (٤) ستون (۳)

# در کنفرانس عشق آباد روی مسئله افغانستان نیز بحث می شود

## از استاد ربانی به عنوان رئیس جمهور افغانستان برای شرکت درجلسه عشق آباد دعوت شده است

مسکو - ۲۰ ثور :

قرار است سران کشورهاي ایران، پاکستان وتاجکستان درعشق آباد پایتخت ترکمنستان راجع به حل مسایل منطقوي باهمدیگر به بحث وگفتگو بپردازند .

شبکه تلویزیوني روسیه گزارش میدهد که طي این دیدار یك سلسله مسایل عمده منطقوي بشمول تحولات

بقیه صفحه (٤) ستون (٤)

# هند دطالبانو ادعا رد کړه

## دطالبانو له مخالفو ځواکونو سره دنوی ډیلی دملاتړ په باب هیڅ سند نشته

## هند ، استاد ربانی دافغانستان دقانونی مشر په توګه پیژنی

نوي ډیلي دغویې ۲۰ مه :

هند دطالبانو له خوا ددي ولي له مخالفانو ( دفاع شوري ) سره دنوي ډیلي دملاتړادعا رد او هغه ئي بي بنسټه وبلله

دطالبانو مشرانو پدي وروستیو کي ادعاکړې ده چي هند دافغانستان ته ددفاع دشورا دځواکونوسره پوځي مرسته کوی .

دارنا خبري آژانس دهنددبهرنیوچارو دوزارت دیوه رسمي ویاند له خولې وویل

پاتی «٤» مخ «۱» ستون

درصورت پیشروی طالبان به شمال افغانستان :

# هزاران فامیل افغان به تاجکستان مهاجر خواهند شد

تهران - ۲۰ ثور :

روزنامه انګلیسي زبان « ایران نیوز » چاپ تهران هشدارداده است که طالبان با فرارسیدن فصل گرما ، مصمم به تصرف ولایات همسرحد افغانستان با جمهوریت هاي آسیاي میانه هستند .

منبع افزود که درصورت متشنج شدن

بقیه صفحه (٤) ستون (٥)

# استاد ربانی تاجکستان ته ورسید

## دی به له تاجکستان وروسته ترکمنستان ته هم لاړ شی

دوشنبه - دغویې ۲۰ مه :

استاد برهان الدین « رباني » پرون دیوه شل کسیزهیئت په مشري دایران ، تاجکستان اوافغانستان ترمنځ په دري اړخیزه غونډه کي دګډون لپاره دتاجکستان پایتخت دوشنبي ښار ته ورسید .

پاتی (٤) مخ (۳) ستون

## روسیه باتوسعه پیمان ناتو مخالفت مینماید

مسکو - ۲۰ ثور :

شوراي امنیت روسیه روي مسئله روابط میان آنکشور وپیمان ناتو تشکیل جلسه داد .

طبق گزارش منابع خبري بین المللي

بقیه صفحه (٤) ستون (٤)

# که دهند ترمنځ په خبرو کی دکشمیر مسئله شامله نشی نوخبری به کومه نتجه ونه رسی

گوهرایوب

اسلام آباد - دغویې ۲۰ مه :

که له هند سره دخبرواترو په اجنداکي دکشمیر مسئله شامله نشي نودغه خبري اترې به کومه نتیجه ورنکړي. داخبري دپاکستان دبهرنیوچارو وزیر ګوهرایوب خان دیوې مطبوعاتي ویښنا په ترڅ کي وکړي .

پاتې «٤» مخ «٤» ستون

# جمعیت علمای پاکستان باردیگر خواستار برسمیت شناختن اداره طالبان شد

کویته - ۲۰ ثور :

اعضاي جمعیت علماي اسلام طي تشکیل اجلاسي در شهر کویته ایالت بلوچستان پاکستان خواستار برسمیت شناختن حکومت طالبان گردیدند .

قرار گزارش مطبوعات پاکستان ، دراین اجلاس ازداعیه طالبان درافغانستان حمایت وپشتیباني بعمل آمده واز حکومت پاکستان مطالبه شده که حکومت طالبان باید شکل قانوني داده شود .

مولانا عبدالغني عضو اسامبله قومي پاکستان خطاب به اعضاي جمعیت علماي اسلام گفت که برسمیت شناختن طالبان به منفعت پاکستان مي باشد .

بقیه صفحه (٤) ستون (۷)

# هلال احمر ایران در بامیان کورس طبی دایر نموده است

پشاور - ۲۰ ثور :

جمعیت هلال الاحمرایران به منظور ارتقاع سطح صحت عامه دربامیان حدود صدنفر ازجوانان آن ولایت راکه داراي اسناد تحصیلي درسطح بکلوریا باشند بخاطرمبارزه بابیماریهاي واګیر تعلیمات طبي میدهد .

به گزارش رادیوي ایران جمعیت هلال احمر ایران روز شنبه باانتشار اعلامیه ئي دربامیان گفت : داوطلبان میتوانند بادردست داشتن مدارك واسناد تحصیلي شان به مراکز صحي هلال احمر ایران دربکاولنګ ، پنجاب و شهرستان ولایت بامیان مراجعه وثبت نام نمایند.

# ایران اوتاجکستان یوه ګډه اعلامیه لاسلیك کړه

دوشنبه - دغویې ۲۰ مه :

دایران اوتاجکستان ترمنځ یوه ګډه اعلامیه لاسلیك شوه .

دایران او تاجکستان مشرانو « رفسنجاني » اورحمانوف پرون دغه

پاتی (٤) مخ (۳) ستون

# بیرل های حاوی بقایای انسان یا نشانه عملکرد نازی ها

برلین - ۲۹ ثور:

بوشنوالد( آلمان ) : حدود هفتصد بیرل حاوي خاکستر و استخوان انسان دربوشنوالا محل اردوگاه مرگ نازي ها کشف شده است این مطلب را اداره

بقیه صفحه (٤) ستون (۳)

# (۳٥) تن از افراد طالبان در دره غوربند تسلیم شدند

پشاور - ۲۰ ثور :

۳٥ تن ازافراد طالبان در ولسوالي غوربند تسلیم نیروهاي حرکت اسلامي شدند . طبق گزارش ارنا این عده افراد تحت قوماندانی ملانبي درمنطقه گفشان

بقیه صفحه (٤) ستون (٥)

# په ترکیه کی ددینی مدرسو بندول دبشری حقوقونه خلاف ورزی ده

نجم الدین اربکان

انقره - دغویې ۲۰ مه :

دترکیې صدراعظم نجم الدین اربکان پرون په دغه هیواد کي داسلامي مدرسو ترل دبشري حقوقو نه خلاف ورزي وبلله .

دفرانسي خبري آژانس د رپوټ له مخي داربکان له دي وینا وروسته دترکیې په ختیزدبنګول دښاردخلکویوي ولي داسلامي مدرسو دبندولو په باب ددغه

پاتی (٤) مخ (۷) ستون

# په پاکستان کي دلومړي ځل له پاره دپټو پولیسو ځواك جوړشو

## دغه ځواك دنوازشریف له خوا دتروریزم دمبارزي له پاره دخصوصی محکموله جوړولو وروسته رامنځ ته کیږي

اسلام اباد - دغویې ۲۰ مه :

دپاکستان په تاریخ کي دلومړي ځل لپاره په دغه هیواد کي دتروریزم په خلاف دخصوصي پولیسو ځواك جوړ شو .

دتهران راډیو درپوټ له مخي په پاکستان کي دخصوصي پولیسو دځواك

پاتي «٤» مخ «٤» ستون

# مصراز تمرینات مشترك نظامی ترکیه ، اسرائیل وامریکا ابراز ناخرسندی کرد

قاهره - ۲۰ ثور :

عمرو موسي وزیرخارجه مصر ازتمرینات مشترك نظامي ترکیه ، اسرائیل وامریکا ابراز نگراني کرد

طبق گزارش مطبوعات پاکستان این تمرینات قرار است دراواسط سال جاري انجام گردد. وزیرخارجه مصر اجراي چنین

بقیه صفحه (٤) ستون (۲)

# مرکز علاج مجروحان ماین درکابل گشایش یافت

پشاور - ۲۰ ثور :

یك مرکز طبي جهت معالجه مجروحین ماین هاي زمیني درکابل گشایش یافت .

طبق گزارش منابع خبري ورکشاپ این مرکز طبي قطعات پاي مصنوعي راتولید مي کند وکارکنان آن براي توان

بقیه صفحه (٤) ستون (٥)

هانوی : داګلاس پیترسن سفیر امریکا و مای وان ون سرباز کهنه کار ویتنامی روز جمعه یکدیگر رادرآغوش گرفته اند .

درمراسم ورود سفیر امریکا به ویتنام درمیدان هوایی هانوی حدود یکصد نفر امریکایی وویتنامی شرکت نموده بودند . وان ون که اکنون ۸۰ ساله است درجریان جنگ با اردوی اشغالگر امریکا در سال ۱۹٦۷ یك پیلوت نیروی هوایی امریکا را که طیاره اش درهانوی سقوط نموده بود ، اسیر کرده بود. پیترسن که اکنون بحیث سفیر این کشوردرویتنام گماشته شده یکی از کهنه کاران جنگ ویتنام است .

امریکا از سرنوشت بیش از یکهزار سربازانش که درجنگ ویتنام لادرك شده بودند هنوز هم اطلاعی ندارد .

شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مسئول : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
تحت نظر هیئت تحریر
تیلیفون : (۲۶۲٤۸۷)
آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

# له طالبانو دناسیونالستانو هیلی

طالبان ادعالري ، چي ددوي تحریك ددیني مدارسو دځلمو طالبانوتحریك دي چي پــــه افغانستان کي دمجاهدینو دخپلمنځي جنګونو له امله دپیل شوي فساد پرخــلاف راپورته شوي اوغواړي په هیواد کـــي سوله اوامنیت قایم کړي . جنګونه پاي ته ورسوي او اسلامي نظام قایم کړي .

په دي کي هیڅ شك نه شـته چي ددیني مدارسو رښتیني طالــبان خویه خامخا دپورته اهدافودتحقق له پاره دایماني جذبي اواحساس لرونکي وي او دپهاده کولو له پاره به یي دهیڅ دول قرباني نه دریغ ونه کړي اوله خپل ادغه سپیڅلي ارمان سره دبي کچه مینې لامل دي چي حیرانوونکي بریالیتوبونه یي پــه برخه شوي اوپه لنډه موده کي یي دیوه منظم اومستحکم تنظیم پــه شکل تبارزکړي اوترخپل کنترول لاندي سیمو کي دامنیت پرقیام او اسلامي حدودو پــر نفاذ بریالي شوي هم دي .

خوطالبان لکه چي څرګــنده ده دپخوانیو مجاهدینو پر خـــلاف راپورته شوي، پـــه دي پالحون کـــي دهغوي تیمګرتیاوده چي تول مجاهدین دښه اوبدلو له تمیز پرته په یوه لښته وهي، فاسد اونیك ته بي په یونظرګوري اوبري له اعتبار کولونه ووه کوي، دافغانستان داسلامي انقلاب په دوران کي دهیواد تول اسلامپال اوداسلامي نظام ارمالحن وګــړي دجهادي تنظیمونو په لیکوکي منظم شول اوپه یودول نه یو دول یي په مقدس جهاد کي برخه لرلي ده ، بیرازي دوه دوله وګړي له دغه ستروپاړ اواخروي اجر محروم اوپي برخي پاتي شول، یویي هغه وله کمونستان چي دکمونستي رژیم نه یي ملاتړ کاوه اودمجاهدینو په مقابل سنګرکي واقع وو، اودویم یي هغه وګړي یاچپي ګوندونه او افرادیي وو چي له کمونستانو سره داتتلاف په لوبه کي روغ اوانقلل اوله هغوي سره دهمکاري نه کولو له امله په هجرت مجبورشول ، ددغوچپي ګوندونو ځیني مشرانو اوافرادویي دخپل معلوم هویت له مخي یادجهادي تنظیمونو عضویت ترلاسه نه کړاي شو اودهجرت په محیط کي تریوه وخته غیرمنظم پاتي شول اویایي یوشمیرنورویي دخپل تمایل له مخي دغرب په لور مخه وکړه اوهلته یي په یودول نه یودول خپل ګوندیزموجودیت ژوندي وساته اوچي کله دلته په ایران اوپاکستان کي کلونه ورندي شول یعني ځیني چپي ګوندونوته که څه هم په غیررسمي دول وه دفعالیت اجازه ورکړل شوه اویاپري انصاروحکومتونو ځانونه ناجانه کړل ، نودلته یي هم سرونه راپورته کړل پیل کړل، په دي لړکي دافغان ملت اوشعله جاوید ګوندونه دیادوني وړدي، که څه هم دغه ګوندونه دهجرت په محیط کي داختلافاتو ښکاروو اوله هریوه څوڅولي جوړي شوي وي .

دوي دجهاد په وروستیو کلونکي هڅي وکړي چي دمجاهدینو داختلافاتونه په استفادي په ځیني تنظیمونوکي ځانونه هم ځاي کړي اووسلي هم ترلاسه کړي، خودخپلوګوندونو په سویه یي هیڅکله دقوت څرګندونه ونه کړاي شوه ، دپخواني پاچاله پلویانو سره یي منلاي تړون وکړي ، دملګرومللوله ځانګړیو استازیو سره یي په غونډوکي دګډون اوځان مطرح کولو کوښښونه وکړل، خولکه څنګه چي نه دپاچا او نه دملګرومللتوهڅوکوم ځاي ونیو، له دي امله ددوي خواري هم عبث ولاړي .

دطالبانو درامنځته کیدو اوپه عمومي توګه له مجاهدینو سره دطالبانومخالفت ددغوناسیونالستي اوچپي ګوندونو غړیو ته یوځل بیا ددي زمینه مساعده کړه چي دطالبانو په صفونو کي ځانونه ځاي کړي اوداانقلاب ددوران تول انتقامونه دطالبانوپه وسیله له مجاهدینواخلي .

همداعلت دي چي دطالبانو په پاکوصفونوکي دافغان ملت اوشعله جاوید دګوندونو ځیني داسي افرادو ځایونه نیولي دي چي په سیمه کي دبرلږ په دي نامه پیوندل کیږي خودګوند له خوا دهمداول فعالیت دنده ورسپارل شوي ده ، دغه افراد کوښښ کوي چي دطالبانو اونورو اسلامپالو افرادو اوقوتونو ترمنځ ددښمني خلیج حایل کړي، خپل ځانونه مخلص وښایي اوهغوي چي له زړه نه غواړي چي په افغانستان کي دي واقعي اسلامي نظام نافذ شي، هغوي طالبانوته دښمنان معرفي کوي. اومتاسفانه چي طالبان هم په همدي پروسه عمل کوي .

که طالبان له زړه نه غواړي چي واقعاً دي په افغانستان کي اسلامي نظام قایم شي، جنګونه دي پاي ته ورسیږي نوترهرڅه لومړي باید خپل طبعي دوستانوته پخپل څنګ کي ځاي ورکړي، هغوي ته چي مرګ اوژوند یي داسلام له پاره دي، هغوي ته چي عزت اوذلت داسلام له پاره غواړي، نه داسي کسانوته چي داسلام ترمبارك نامه لاندي دخپلو شوموا وناروا اهدافوله پاره کارکوي اوله هغوي ته چي دطالبانو له منځه نه دخپل ناولي انتقام‌خوبونه ویني، دویم داچي طالبان باید ددندو په سپارنه کي مومنانه اخلاص اوتقوا په نظرکي ونیسي اوهمدغه یي اساسي معیارووي، نه سیمه ، ژبه اوقام .

# مشکلات وتوقعات مردم و عقب نشینی گروه های متحارب

واصل حمید

درمیان مهاجرینی کــه روزانه از افغانستان وخاصتاً ازنقاط تحت کنترول طالبان مهاجرمیشوند، یکــعده زیاد کساني اند که ماموریت هاي رسمي شانرا رهامیکنند زیـــرا غیرازاینکه معاش ماهانه یــك مامــور قیمت دوسیرآرد را پـــوره نمیکند معاش طورمنظم نیز پرداخت نمیګردد. طبق یك تخمین ، از دوماه به اینسو صرف هزار نفر که شامل درمؤسسات صحت عامه وشفاخانه ها بوده اند کارشانرا رهاکرده اند . مسئولین طالبان ، نرسهاوکارکنان شفاخانه ابن سینا ، کابل که خواستار سه ماه معاش نااجراشده شان میشدند گفته بودند که اگر برهمین منوال کارمیکنند خوب و اگــر نمیکنند بروند وسروظیفه نیایند . تعـــداد زیادي از استادان ومحصلین نیز با وجود باز شدن برخي شعبات پوهنتون سر دروس شان نرفته اند یك محصل طب کابل گفته است که اگرمحصل ازخود مصرف نداشته وتوان اقامت درکابل رانداشته باشد در لیلیه پوهنتون نمیتواند رهایش نمایــد زیرا مصارفي کــــه روزانه براي محصلین لیلیه معین شده کفایت یك وقت غذا ي محصل را کفاف نمي نماید .

غیراز مؤسسات صحي ، در بسیار دفاتر ومؤسسات دیگــر دولتي نیز طالبان بــه کسانیکه خواهان پرداخت معاش شان بوده اند نیز اعلام کرده اند که درصورت تقاضاي معاش به وظایف شان نیایند. گراني وکمبود مواد غذائي روز در روز سطح نارضایتي عمومي را از حکومت موجود کــه طالبان درراس ورهبري آن قراردارد افزایش میدهد . روز پنجشنبه گذشته حدود صدوپنجاه تن اززنان گرســـنه وفقیرکابل بشکل مظاهره درخیرخانه ازدولت میخواستند که به آنها وکودکان شان نان خشك توزیع نماید، زیرا آنها دیگر هیچ وسیله اي براي تهیه نان دراختیار ندارند گفته شده که حدود شصت نفر ازاین مظاهره چیان زیر تحقیق گرفته شده اند .

افزایش نا رضـایـتي تقریباً بطور سرسام آوري درحرکت است،ولي چنانکه دیده میشود طالبان باخونسردي تمام به این جریان تماشا میکنند . آنهــا همه فکروخیال را در خدمت جنگ قرار داده اند وبه چیزي غیرازجنګ فکرنمیکنند وقتي ازطالبان ســوال میشود که براي ختم مصیبت هاي بي پایان واین همه گرسنگي وپریشانحالي مردم چه چاره اي درپیش میگیرند ، طالبان مردم رابه پیروزي هاي آخـــري و بزرگ شان برمخالفین امیدواري میدهند ومخالفین را مسئول گرسنگي وفقرمردم وانمود ساخته یاد آورمیشوند که اگر مخالفین قلع وقمع شوند وجنگ تمــام بشود دیگرمشکلي باقي نمي مانــد ودنیاګل وگلزار میشود. ولـــي طالبان تاریخ دقیقي براي ختم جنگ وپایان عملیات به اصطلاح « فتاح الفتوح » خودمعین نمیکنند ، مردم درهرصورتي مجبوربه انتظاراند ولي انتظاربردن نیز دریك حدودي توانمندي میخواهد که ازاین نگاه مردم فوق العاده درمانده وبي بس شده اند . وضع فعلي کشور درمجموع، و کابل بطور خاص دروضعیت مرگ وزندگي قــــرار دارد ، در کشمکــش پیداکردن یك لقمه نان خنك براي سد جوع قرارگرفته اند .

عدم توجه به وضع رقت بار رعایاي حکومت طالبان دونوع توجیه دارد، یکنوع آن همان توجیهي است که گفتیم افـــراد عادي طالبان بـــــه مردم ارایه میدهند ومعتقدند که اگرجنگ تمام شود همه چیز درست میشود. نه تنها جواب طالبان براي مردم، بلکه براي ارضا کردن قشر عمده طالبان که بااحساس نیك وخوشبینانه وارد عملیات جنگي طالبان شده اند نیز همین یك توجیه است که باید تمام هم وغم روي مسأله جنگ صورت بگیرد ، همه چیز درخدمت جنگ باشد وتازمانیکه جنگ تمام نشده به هیچ دردي وهیچ شکایتي غیرازشکایت جنگ وقضیه جنگ فکرنشود .

مشروعیت دادن جنـــگ وکتمان ساختن مصایب بي پایان مملکت زیرشعار جنگ درمیان صفوف طالبان هنوز گرمي خود را دارد وهنوز میتواند حرف معقول براي یك بخش ازهواداران جوان و خــون گرم طالبان باشد که ازتجارب کافي برخوردارنیستند .

توجیه ثانوي ودومي درقسمت عدم توجه بحـــال مردم، توجیهي است که نزد تحلیل گران قضایا و نــزد محافل پشت پرده قراردارد . براســـاس این تحلیل، عدم توجه بحال مردم وادامه جنگ بخاطري توام ادامه پیدامیکند که هم به این وسیله مقاومت وتوانمندي عمومي جامعه تضعیف بشود، هــم توانمندي طالبان بعنوان یك گروه اداره چي زیر سوال برود وپایگاه اجتماعي طالبان بکلي متزلزل گردد .

عدم توجه بمسایل ومشکلات مردم قبل ازهمه بخود طالبان صدمه میرساند وگراف علاقمندان و حامیان این گروه را بسرعت پائین مي آورد. چنین به نظرمي آید که طالبان قبل از برآورده شدن اهداف جنگ خود بیشتر قرباني مصایب حاصل ازجنگ میشوند واگر باهمین سرعتي کـه محبوبیت طالبان دربرابر مشکلات وگرفتاریهاي روز افزون مردم کسروکمبود پیدامیکند قضایابازهم رویه وخامت برود وازجانب طالبان براي رفع قحطي وگرسنگي وبراي رفاه عامه تدابیر لازم اتخاذ نگــــردد و یا کدام انکشاف واقدام صلح آمیزي روي دست گرفته نشود، پیش بیني میشود کــه حکومت طالبان حداعظم تاپنج ماه دیگر نتواند رویکاربماند .

مشکلات و بي سروساماني اداره دولت خواهي نخـــواهي درمیان ارگان خود دولت جـــور کرده طالبان نیز اثرمنفي میگذارد ومشکلات دروني وبیروني یکجا ماشین دولت را راکد میسازد .

آنطورکه ملاحظه میشود هیچ نوع امیدواري وجود ندارد که گروههاي متحارب بتوانند اقدام وابتکاري رابراي پایان جنگ واردمیدان نمایند . حالت کنوني حیثیت وضعي را دارد کـــه دربرابریك سیلاب وجریانیکه انتهایش معلوم نیست هــمه مسایل رها وبي اختیارشده باشد . ولي به یقین میتوان گفت که قویترین وسنگین ترین خساره رادرین میان طالبان میپردازند زیرا طالبان گروهي هستند که درقیادت و مقتداي کشور قـــرار گرفته انـــد و بیشترین اختیار و تـــوان را درجهت کشاندن قضایابجانـــب مثبت ویامنفي دارامي باشند .

همه گروههاي متحــارب و طالبان بیشتر درمعرض یکنوع عقب نشیني خزنده وتدریجي قرارگرفته اند . جنگ ، گراني وافزایش مشکلات ومصایب مردم صلاحیت هاوپایگاه هاي این گروههارا ازمیان برمیدارد واگراین گروهها برجنگ قایونشوند وراه اصلاح را درپیش نگیرند واضح است که ازجریان تجرید میشوند وزمینه را بیك جناح ایکه هویت جهادي ومذهبي نخواهد داشت خالي میسازند .

###

# تـــودی اوبنـــکی مظلـــوم اســـلام!!

شاکر

له تیروتولسو کالو راپدېخوا ، زموږ له هیوادنه دحال اوقال په ژبه دمظلومیت کریږي پورته کیږي . پدي تیرو پنځوکالوکي زموږ دمظلومیت دایره دومره پراخه شوه ، چي پروګرو سربیره زموږ آرمان، زموږ اقتصاد، زموږ اقدار، آرشیف، موزیم، زموږ انقلاب اوآن زموږ اسلام اومقدسات هم مظلوم شول !!! زموږ دمظلوم اوسلګی سلګي هیواد، د هــر اړخ مظلومیت دتحسراوژړلودي ؛ خو هغه څــه ، چي باید په کوکو، کوکو پري وژاړو او دژړا تراړخ پري تنګه وکړو، هغه داسلام دمقدس دین مظلومیت دي. متأسفانه زموږ په هیواد کي اوسني صورت حال تربل هرڅه زیات اسلام متضرر کړي، داځکه چي زموږ هره بدي اوهره غمیزه داسلام ترعنوان لاندي رامنځته شوي !!

که موږ خپل هیواد کنډر کنډر کړ؛ نو داموویل، چي داداسلام دحکم په بنسټ جایزعمل دي !! اوحتي داسلام لپاره یي ورانوو، که موبیت المال چورکړي اودهیواد ملي شتمني مو دیو لڅو دایره مارانو په کیڅي کي غورځولي، داموداسلام مطابق عمل بللي، که مونیاتکونه جوړکړي اودخلکو شخصي مالونه مــو پـــه زور تري اخیستي، دي عمل تـه موشرعي رنګ ورکړي ، کــــه مویه خپل منځي خرڅشوکي په زرګونوکسان لـه منځه تللي اودخپلومسلمانو وروڼو وینې مو بهولي دي، داسثم موهم شرعي توجیه کړي، که مودتول ملت په حقوقو پښه ایښي اوده میم زرماتول یې زما » په مصداق مویه هرڅـــه خیټه اچولي، بیاموهم ویلي، چي دازموږ شرعي حق دي، اوکه نن دنبځو اوټولو اقشارو له مسلمو حقوقو انکارکوو، داخپل شرعي تکلیف ګڼو، خلاصه داچي موږ دهري بدي ارتکاب داسلام ترنامه لاندي کړي اودامو ویلي دي، چي داداسلام دحکم په اساس ترسره کوو !!!

زموږدهمدغسي ناروا توجیهاتو له مخي ده ، چي زموږ دهیواد اساسي ومخربین اوس زموږ په مقدساتو ملنډي وهي !! څو ورځي مخکي یومشهور کمونست ( واکبر زیار) ، چـــي آدچاخبره له منګولو یي اوس هم زموږ دمظلومو بچو رووینې څڅیږي پخپل یومضمون کي « جهـــاد » کورګډي لیکلي ؤ. همداراز داخبره په کابل کي اوس تقریباً عامه شـــوي، چــي « جهادیانوکابل وران کړ. » آبله ورځ په موټر کي له یوتکره مجاهد او روښن فکرسره په یوه ځوکي ناست وم، دخبرو په خلال کـــي مي تري په جهادي اموروکي د مصروفیت په باب پوښتنه وکړه ، دیوه ساړه اسویلي سره یي په ځواب کي راته وویل :« نورمي توبه ده ، اتلس کاله چي مي څه کړي دهغو په ارونډ هم نه پوهیږم ، چي ښه مي کړي اوکه بد !! »

اوس ترټولو خطرناکه مسئله داده ، چي سټیکلاك او په هغوي پوري ترلي حلقي، زموږ ولس اوټول استضعاف ته داذهنیت ورکوي، چي اسلام نه شي کولاي دخلکو اقتضاآت پوره کړي، لاچي اسلام له تشدد، قساوت، بربریت اواختناق نه ډك نظام اومکتب دي !! متأسفانه زموږ داقتدار په بوي لرلو جګړوکي اوس جنګو ځپلي ولس دامني، چي اسلام زموږ په هیواد کي درغښت اوسازښت جوګــه ندي !! هغوي موږ داسلام عیني تجسم ګڼي، اوموږ چي پخپلوناکردو له اسلام نه کوم « بیو » اوکومه مدهوشه څیره را ایستلي، لدینه ټول هیوادوال کرکه کوي؛ ځکه خواوس « هندوته هم لالاوایي » اوپدي نظردي، چي یوه بله څـــیره راشي اودوي ته دیونظام په جوړولوکي لاس ورکړي. ویل کیږي ، چـــي دننګرهار یوه مشهورعالـــم ( مـولوي کودي خیل ) خوحتي ترموجودنیشت نظام نه بل هرنظام ته ترجیح ورکوي، البته په داسي صورت کي چي منحیث النظام رامنځته شي اوحقوق العـــباد پکي خوندي شي .

پدي کي شك نشته ، چــي موږ اسلام یومتشدد اوله وژنو اوترټنونه ډك نظام خلکو ته ورمعرفي کړ، نن که هلته اودلته بي ګناه خلك ترټل کیږي اوحتي تورسري په دبوروهلي کـــیږي، نړیوال کفر په همدغي استناد کــوي اواسلام ته دنړیوال انسانیت دګرایش مخه پري نیسي. عجیبه داده ، که موږ ښځي په لرګووهو اوکه ځوك په لوڅ ســـراوخریلي ږیـــره تهدیدوو او توهینوویي، دغه ټول عمل داسلام په خیراومصلحت ګڼو!! موږ له اسلام نه په لوي لاس یودغـــي تنګ چوکاټ جوړکړي، چي زموږ له سلیقي اومزاج نه ور آخوانه بل هیڅـــوك پکي نه ځائیږي او داعمل بیا هم داسلام خدمت ګڼو !! پدي اوس هم نه پوهیږو، چي په نړیوال کچ زموږ دغـــي تنګ نظري اوله اسلام نه ضعیف برداشت اسلام ته څومره ضرر رســـوي. اوس خـــو لا د « تکفیر » وله هم راپیداشوه ، چي په ډیره آساني په مسلمان دکفرحکم کولاي شي اومباح الدم یي ګڼي !! کیداي شي زموږ په آغاګانو کي هم همدغه دمباح الدم ګڼلورجحان او احساس غښتلي وي؛ ځکه خـــو دبل مسلمان وژلوته دغزا اوخپلي مړیني تـه د « شهادت » رنګ ورکوي اوځکه خوزموږ په هیواد کي خپل منځي جګړي زور اخلي !!

اوس طالبان وایي، چي پخواني مجاهدین « ټوپکیان » اومفسدین دي اوزموږ جنګ ورسره جایزدي. استاد رباني دعوي کوي، چي اسلامي دولت یي جوړکړي او په مقابل کي یي، چي ځوك جنګیږي ، هغوي باغیان اوداسلام دښمنان دي !! دغسي زموږ وژل کیدل تول داسلام ترنامه لاندي ترسره کیږي ؛ ځکه خوزما په نظرتریل هرڅه زیات همدغه اسلام مظلوم دي . زموږ په ظاهراً اسلامي پوزیشن سمبال مفتیان،چي له اسلام سره دومره بیباکانه لوبي کولاي شي؛ نو تردي به په اسلام دمظلومیت شیبي نوري کومي راځي. متأسفانه موږ له اسلام نه په اصطلاح لاس ( بي ادبي معاف ) پاك جوړ کړي، چي په هره ګناه ککړ لاس پرهمدغه لاس پاك پاکوو!!

څومره دردناکه ده ، چـــي موږ پداسي وخت کي لـه اسلام ســره دغه ډول بي باکــي او جفا کوو، چــي دکمونیزم او کپیتالیزم دوومکتبونو دخپل پوچوالي له کبله په جهاني کچ خپل افادیت اواهمیت له لاسه ورکړي، اواوس نړیوال انسانیت په غوڅ اکثریت اسلام ته مخه کړي او اســـلام دخپل ژوندانه لپاره له سعادت نــه ډك نظام اومکتب ګڼي .

آیاله اسلام سره زموږ دغــه ډول کاواکه اوظالمانه چلند به دهغوي مخ بل ایزم ته وانهړوي ؟ آیا یوبل « سلمان رشدي» بـه زموږ دکردار په وجه په اسلام دکوم بل مسخره ناول دلیکلو جرئت ونه کړي !! طبعاً خوابونه منفي دي. له همدي کبلـه ده "چـي زموږ کردار داسلام پوزه او غوږونه غوڅوي اواسلام په یوهسخه شوي شکل جهان ته وړاندي کوي!!

حقیقت دادي ، چــي اسلام له هر عیب نه پاك دین دي. پــه اسلام کي دانسانیت هري غوښتني ته ځواب ویل شوي .

« اسلام ندارد در ذات خـــود عیبي
هرعیبي که است درمسلماني ماست »

اسلام نه په تشدد استواردي اونه په تنګ نظري، نـه پکي مسلمان وژنه ځائیږي اونه هم دچا تحقیراوتوهین، نه پکي پاتك ته جوازشته اونه دبیت المال خوړلوته ، اسلام نه دشخصي مالکیت چوروول اولوټل جایزګڼي او نه دولتي سرمایي . همدغه اسلام دي، چي دیو بي ګناه انسان وژل دګردانسانیت وژل ګڼي او د قاتل لــپاره یي دجهنم اورټاکلي. اسلام که چاته دجنګ جواز ورکوي؛ نو دجنګ دعواملو داختتام لپاره یي ورکوي، « قاتلواهم حتی لاتکون فتنه » په اسلام کي جنګ دجنګ دختمولولپاره وي. په اسلام کي انسانیت تـــه دبل هرایزم په نسبت د قدرپه سترګه کتل شویدي . « ولقد کرمنابني آدم » ؛ خوداچي موږله اسلام سره څه کوو خلك دي موږداسلام عیني تجسم نه ګڼي اوموږ په خپله په اسلام ظالمان یو !!!

داسلام دي، چي دهـر مشکل حلال دي
پکښي نغښتي قسط ، انصاف اواعتدال دي
په هیڅ کیش کښي آزادي کماحق نشته
داآئین دحـریـت او استـقلال دي
بشریت پکښي مصئون ژوندون حاصل کا
ددي دین سیوري کي خدایږوژند سمبال دي

###

ازفرانتیرپست

**چي کشور دافغانانو معطر کا**
**دهربيت مصراع مي زلفي د خوبان کړي**
رحمان بابا

**دغونچې د رباط ور په واکیدو دی**
**قافله د رنګ وبو د رومی سباشي**
شیدا

# دادب ورمې

## نظم

د ناګار له بالاحصارنه

دا په څه مي په دعاکي کښي اثر نه شته
د لوګو د زړه مي ولي شررنه شته
د امي داغ ستا د جفا په تبرنه شته
چي سور اورمي لکه شمه په سرنه شته
اوسيلي مي دي ختلي کهکشان ته
ګوندي لاره به پيداکړي پاس آسمان ته
***
تال د غزمي ستر تکبير د کربلادي
شور د سرمي د علي (رض) ولي الله دي
د «لا» بوت ته تيغ تيار د الاالله دي
دا د «ثور» دي نيبم که د «حرا» دي
چي زما زړه بي نري که لکه پانه
پورته وخته له سرسدره د خيال زانه
***
ليونتوب زما باج خو دستا د توپان دي
خيال مي غيږ کښي رانيولي پاس آسمان دي
لکه موج مي ناکراره د ژوند شان دي
لکه قبر په ماتنګ دغه جهان دي
په پوښتنه مي رانغي کوم خليل ستا
تر ايده څوروي مي غزاريل ستا
***
د حسين (رض) نيکه به پاخوم له خوبه
کرم خبريه يي له خپله ليونتوبه
څه به راکړي د منصور د دار له چوبه
په رقيب باندي که نه مي راځي سوبه
رازونيازله يو طورنه دي غرونه ډيردي
د ملك غرونه مي فلك لره ورتيردي
***
پري کانه ددي دنياکه نه خبريږي
زما چيغي خدايه تاته نه رسيږي
ليوني يم که دا امله مي نه پوهيږي
چي څوك کړي اروی اوڅوك باريږي
زه حيران يم زما کومي خواته يون دي
لي ميرګونونه بتر راته ژوندون دي
څه به زه خراب يم ريه څه دا نور دي
دلته زړونه د کيني په لوګو تور دي
ابراهيم دي که منصور پراته په اوردي
زما عزم وهمت مخ په کوه طور دي
چي تري راوړم امتونو له پيغام زه
هلته عرض کړم په ادب دعا سلام زه
***
حيدري چيغي به وکړم چي راستون شم
هرمنکر له به د عقل اپلاتون شم
زه قرآن به د عمر(رض) په لاس قانون شم
زه به مرو غروکښي ساه ، روح و ژوندن شم
ته دي يو واري سيلي راته نسيم کړه
د اورمنځ کښي مي په شان د ابراهيم کړه

## احساس

کاف لام

چا سره چي وي شعور، احساس، ادراك
نه آرام لري نه خوب اونه خوراك
په خوږو ترخود ژوند کله پوهيږي
چي د نورو په غمونو وي غمناك
له بي درده چي تپوس د درد ونه کړي
څه خبريږي دا بي درده له درد ناك
درندانو سروکارله ميخاني وي
د شيخ لاس کي وي امساء تسبيح ، مسواك
څه به هغه د خپل تام په درد دوا شي
چي پخپله څوك د نورو وي د سپاك
چي يوځلي د حيا پرده شي څيري
بيا به څه بي حيايي وي څه بي باك
د دنيا حريصان چا دي ماړه کړي
هله موړشي چي يي خوله شي ډك له خاك
د دنيا نيمګړي څوك پوره کوي شي
ارمانيان ارماني لاړل سينه چاك
د الله رضا به يي هله شي په برخه
چي څوك خلاص وي د هوا هوس له واك
هميشه به برخپلو متومتکي شه
نه د نورو په اوږو بارلکه تاك
ناسته پاسته له پاکانو سره ښايي
ځانه، به ساتي «کاف ، لامه» له ناپاك

## احساس

زړه سوی :

زړه سوی، ترحم، عاطفه، شفقت، مهرباني، دردمندتيا داهغه کلمي دي چي کله خپل اهميت اوګټورتيا له لاسه ورکړي، د انسانانو زړونه تري خالي شي اوځاي زور، ظلم ، تيري، کبر، لويي، ځان غوښتنه ، خپلچاري اوخپلسري وتيسي،بشري ټولنه د وراني، ويجاړي، تباهي، بربادي، نابودي، بربريت، فساد ، ګډوډي، ظلم،تيارو،بي نظمي، بدنظمي، لاقانونيت اونوروم‌فاسدو او بدبختيو په لور روانه شي، اوبالاخره داسي حدته ورسيږي، چي د ټولني په و ګرو کښي نيك او د ټولنيزوبيګړو احساسات يا مړه او يا دومره غريب شي چي ددغسي احساساتو په لرونکيو پوري د تباهي،په حال کښي ټولني ټول خپلسري او خپلچاري وګړي خاندي، هغوي بيا دغسي افکار او خيالات د ليونتوب زانګوبولي او لرونکي يي د ليونتوب په زانګوکښي زنګيدونکي .

افسوس چي له څوکلو راسي زمور له مظلوم هيواده هم د زړه سوي اوترحم د کورني کلماتو او احساساتو خپل ارزښت او افاديت له لاسه ورکړي ، دي ، پرهيواد او هيوادوالو مو د خپلمنځي جګړوله امله د وير، ماتم ، غم ، تباهي،او بربادي خپسه ناسته ده، د هيواد هروګړي مو د يوه نامعلوم او تياره برخليك په انتظار شپي سباکوي، د ځان اولاد او کورني. غمونو تري د هيواد ټولني ، ملت او ولس ټول غمونه هيرکړيدي، پرهيواد مود صغري قيامت ورځي دي او وګړي مود نفسي نفسي په نارو سردي .

په دغسي د غمونو، د ردونو، ترپانونو او مصيبتونو ډکي توره شپه کښي مو پري دي لاځه چي هغه خپل هم په بند زانغلل چي د ترحم اوعاطفي درسونه يي راته ويل ، د ترحم اوزړه سوي اجرونه اوثوابونه به يي راته شميرل، د قيامت په ورځ به يي پريتيمانو ، بي وزلانو ، مسکينانو، خورانو، حتي ټولوانسانانو او حيواناتو باندي د ترحم او زړه سوي اجرونه د قرآن اوسنت په رڼا کښي بيا نول ، چي تا به فکرکاوه چي دوي خو به پخپله پاکي او بي نفسه ملايکي وي او زړونه به يي دومره نرم وي او خو يونه به يي دومره پاسته وي چي د «د يارد پاتي کيدو له امله به په ميږي پښه نه ږدي» !!!

خو هغه زما د ملګري فلسفيانه وجيزه ده چي «يوځلي تخريب شروع شي بيا هرڅوك تخريب کوي » او اوس خود ترحم او زړه سوي د نشتوالي له امله د هغوي احساس هم مړشوی چي د قرآن، احاديثو، ادب اونورو علومو په وسيله به يي په ټولنه کښي د ژوندي احساس تخمونه کرل او د آخرت د خوږي ميوی په هيله يي د زړه سوي اوترحم وعظ کاوه، خو ا فسوس چي پرمور د فارسي د همدي شعر مصداق کانه وشوه چي :«کفر که ازکعبه خيز د کجا ماند مسلماني» .

## لنډه کيسه

## دوه دالماس غمي

